# په افغانستان کې پر ملکي وګړو د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو اغېز

بخش حقوق بشر یوناما

۱۵ آگوست ۲۰۲۱ – ۳۰ می ۲۰۲۳

هیئت معاونت سازمان ملل
متحد در افغانستان

کال ۲۰۲۳. یوناما. ټول حقونو محفوظ دي.
د یوناما د بشري حقونو خدمتونه له لوري چمتو شوی
ډیزاین: یوناما

# فهرست


د دې راپور په اړه ........................................................................................... ۴

کتنه....... ...................................................................................................... ۵

کليدي شميرې................................................................................................. ۵

د ځانمرګو بريدونه له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبه ......................................................... ۶

په عبادت ځايونو کې د بريدونه له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله....................................... ۸

پر هزاره ټولنو باندي د په نښه شويو بريدونو له امله د ملکي کسانو مرګ ژوبله..................... ۱۰

پر *اوسني چارواکو* باندي د په نښه شويو بريدونو له امله ملکي کسانو ته مرګ ژوبله ............... ۱۱

د رسنيو خپلواکي او د ژورنالستانو خونديتوب............................................................ ۱۱

پايلې....... ................................................................................................... ۱۳

توصيې....... ................................................................................................. ۱۳

ضميمه: ميتودولوژي ........................................................................................ ۱۵

## د دې راپور په اړه

دا راپور د افغانستان د خلکو لپاره د اندیښنې وړ د بشري حقونو د اوسنیو مسلو په اړه د یو لړ موضوعاتو مطالعاتو یوه برخه ده چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د خدماتو د ادارې لخوا د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک په چوکاټ کې ترسره شوي. ، کوم چې د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پریکړه لیک لخوا تمدید شوی. د ۲۶۲۶ پرېکړه لیک یوناما ته دنده ورکوی چې "د ټولو ښکیلو اړخونو سره په ملي او سیمه ایزه کچه او د مدني ټولنې او نړیوالو غیر دولتي سازمانونو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو په ساتنه او وده کې ښکیل شي"، او د ملکي وګړو د وضعیت څارنه، راپور ورکول او ملاتړ کول (او) د تاوتریخوالي مخنیوی او له منځه وړل. د دې ښکیلتیا د یوې برخې په توګه، د افغانستان *اوسني چارواکو* ته بلنه ورکړل شوې وه چې د راپور د محتوا په اړه خپل حقیقي نظرونه وړاندې کړي او د دوی ځواب ضمیمه شوی.

## کتنه

سره له دې چې په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ د طالبانو واک تر لاسه کولو وروسته په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کمښت راغلی دی، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د پام وړ ملکي زیانونو مستند کولو ته دوام ورکړی چې د قصدي بریدونو په پایله کې د ځای پرځای شوي چاودیدونکو توکو څخه کار اخلي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه بیا تر ۲۰۲۳ کال د مې تر ۳۰ نیټې پورې، یوناما په ټولیز ډول ۳۷۷۴ ملکي تلفات (۱۰۹۵ وژل شوي، ۲۶۷۹ ټپیان) ثبت کړي دي.

د دغو ملکي تلفاتو درې پر څلورمه برخه (۲۸۱۴ملکي تلفات: ۷۰۱ وژل شوي، ۲۱۱۳ ټپیان) په ګڼ مېشتو سیمو کې د عبادت ځایونو، ښوونځیو او بازارونو په ګډون د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره بریدونو له امله رامنځته شوي دي.


*"زه ټول شیان په یاد نلرم، خو ما ولیدل چې چاودني ته نږدې کسان ټوټې ټوټې شوي وو او هغه کسان چې لرې لرې وو لږ بهتره وو، ما خپل ورور او نور همصنفیان ولیدل چې په ټپیانو کې وو... زما یو همصنفي د شدیدو ټپونه له امله د بلخ روغتون خوا ته په لاره کې د انتقال په پر مهال سا ورکړ. د سمنګان ولایت په روغتون کې تر ۲۵ تنه زیات زده کوونکي بستر شوي دي چې د ځینو حالت جدی دی او زه هیله لرم چې دوي جوړ شي. د زده کوونکو زیات شمېر د ۱۸ کلونو څخه ټیټ عمر کې وو، خو زموږ په همصنفیانو کې تر ۱۸ کلنۍ عمر زیات زده کوونکي هم وو."*

په مدرسه کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د چاودني له امله د یو تن قرباني بیان، د سمنګان ولایت، ۲۰۲۲ کال د دسمبر ۱ نېټه.

## کلیدي شمیرې

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ۲۰۲۳ د مې تر ۳۰ پورې، یوناما د ۳۷۷۴ ملکي تلفاتو (۱۰۹۵ وژل شوي، ۲۶۷۹ ټپیان) ثبت کړي، په دوی کې ۲۳۳ میرمنې (۹۲ وژل شوي، ۱۴۱ ټپیان) او ۸۶۶ ماشومان (۲۸۷ وژل شوي، ۵۷۹ ټپیان) دي. په دې موده کې د ملکي تلفاتو اصلي لاملونه په قصدي ډول د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو بریدونه (۲۸۱۴ ملکي تلفات)، د جګړې پاتې چاودیدونکي توکي (۶۳۹ ملکي تلفات) او هدفي وژنې (۱۴۸ ملکي تلفات) وو.

د ۲۰۲۱ کال د اګوسټ میاشتي تر ۲۰۲۳ د مي میاشتي پورې ثبت شوي ملکي تلفات



یوناما د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ۲۰۲۳ د مې تر ۳۰ نېټې پورې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې لږ تر لږه ۲۸۱۴ تلفات (۷۰۱ وژل شوي، ۲۱۱۳ ټپیان) مستند کړي دي. په وژل شویو او ټپیانو کې ۲۸۹ ماشومان (۷۵ وژل شوي، ۲۱۴ ټپیان) او ۱۶۸ ښځې (۶۴ وژل شوي، ۱۰۴ ټپیان) دي.

د ملکي کسانو د مرګ ژوبلېستره برخه (۱۷۰۱) د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي د برید امله وو چې ادعا یې بنسټ د عراق او شام د اسلامي حکومت – د خراسان د څانګې له خوا تر سره شوي دي. د مرګ ژوبلې زیاته برخه (۱۰۹۵) د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي د برید له امله تر سره شوي چې هیڅوک د هغو د مسؤلیت اخیستلو ادعا ندي کړي او/یا یوناما هم ندي توانیدلي چې د هغو مسؤلیت چاته منسوب کړي.

## د ځانمرګو بریدونو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله

په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې راهیسې په ملکي وګړو کې د مرګ ژوبلې د کچې د ستر کمښت سره سره، د ځانمرګي بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کمښت نه دی راغلی. د یوناما شمېرې روښانه کوي چې نه یوازې د دا ډول بریدونو له امله د روان ملکي تلفاتو کې د پام وړ کښمت ندی راغلی، خو د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې را پدیخوا د ځانمرګي بریدونو په مرګ ژوبله کې زیاتوالی راغلی، چې د لږ شمېر ځانمرګي بریدونو کې زیات شمېر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړول شوي د. د دې برسېره، په داسي حال کې په تېرو ورستیو کلونو کې د ځانمرګي بریدونو له امله چې د اسلامي حکومت د خراسان ولایت له خوا تر سره شوي دي، د ملکي کسانو په مرګ ژوبله کې کمښت راغلي وو، خو دغه شمېره د طالبانو له خوا په افغانستان کې د واک د ترلاسه کولو لږه موده وروسته، په ستره کچه زیاته شوي ده.

- په ۲۰۱۸ کال کې، ۵۰ ځانمرګي بریدونه د ۲۴۷۳ ملکي کسانو مرګ ژوبلې (۷۶۳ وژل شوي، ۱۷۱۰ ژوبل شوي) لامل شوي وو.
    - د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه د ۲۷ ځانمرګي بریدونو مسؤلیت درلود چې له امله یې ۱۷۰۰ تنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړول شوه.


    طالبانو د ۱۷ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې د ۵۶۶ تنو ملکي وګړو مرګ ژوبلې لامل شوي وو. نا مشخص شوي دولتي ضد عناصر[1] د ۶ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې له امله یې ۲۰۷ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله.
- په ۲۰۱۹ کال کې، ۳۱ ځانمرګي بریدونه د ۱۴۶۴ ملکي کسانو مرګ ژوبلې (۳۰۱ وژل شوي، ۱۱۶۳ ژوبل شوي) لامل شو.
    - طالبانو د ۲۳ ځانمرګي بریدونو مسؤلیت درلود چې ۹۹۵ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله، د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه د ۵ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې له امله یې ۴۱۶ تنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړول شوه. نا مشخص شوي دولتي ضد عناصر د ۳ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې له امله یې ۵۳ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله.
- په ۲۰۲۰ کال کې، ۱۶ ځانمرګي بریدونه د ۵۵۷ ملکي کسانو مرګ ژوبلې (۳۰۱ وژل شوي، ۱۱۶۳ ژوبل شوي) لامل شو.
    - د داعش د خراسان ولایت څانګه د ۲ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې له امله یې ۲۲۷ تنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله. طالبانو د ۱۰ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې د ۱۹۱ ملکي وګړو مرګ ژوبلې لامل شو. نا مشخص شوي دولتي ضد عناصر د ۴ ځانمرګو بریدونو مسؤلیت درلود چې له امله یې ۱۳۹ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله.

---

[1] حکومت ضد عناصر د طالبانو او نورو نادولتي منظمو وسله والو ډلو، د حقاني شبکې په ګډون (چې د طالبانو تر مشري لاندې فعالیت او په پراخه پیمانه د طالبانو د پالیسګانو او لارښونو څخه پیروي کوي) القاعده، د ازبکستان اسلامي تحریک، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکرِ طیبه، جیش محمد، هغه ډلې چې ځان ته د اعراق او شام اسلامی حکومت، د خراسان ولایت څانګه داعش وايي، نور ملیشه وسله والي ډلې چې سیاسي، ایډیالوژیکي او یا اقتصادی موخې تعقیبوي، د وسله والو جنايي ډلو په ګډون چې په نیغه د نورو دولت ضد عناصرو په نیابت خصمانه اعمالو کې ښکیل وو، غړو ته اطلاق کیږي چې په یوه وخت کې د حکومت پلوه ځواکونو پر خلاف په نیغه شخړو کې برخه اخیستل.

- د ۲۰۲۱ کال جنوري د مياشتې د لومړي نېټې څخه بيا د دغه کال د اگست د مياشتې تر ۱۴ نېټې پورې، ۸ ځانمرګي بريدونه د ۱۰۲ ملکي کسانو د مرګ ژوبلې لامل شو (۱۹ وژل شوي او ۸۳ ژوبل شوي).
  - طالبانو د ۶ ځانمرګو بريدونو مسؤليت درلود چې ۸۷ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله، نا مشخص شوي دولتي ضد عناصر د ۲ ځانمرګو بريدونو مسؤليت درلود چې له امله يې ۱۵ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله، د اسلامي حکومت د خراسان ولايت څانګه د هيڅ ځان مرګي بريد مسؤليت نه درلود چې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوي.

- د ۲۰۲۱ کال اگست د ۱۵ نېټې څخه بيا د دغه کال د دسمبر د مياشتې تر ۳۱ نېټې پورې، ۳ ځانمرګي بريدونه د ۷۵۳ ملکي کسانو مرګ ژوبلې لامل شو (۲۵۳ وژل شوي او ۵۰۰ ژوبل شوي).
  - د اسلامي حکومت د خراسان ولايت څانګه د دريو ځانمرګو بريدونو مسؤليت درلود.
- په ۲۰۲۲ کال کې ۸ ځان مرګي بريدونه د ۶۰۰ ملکي کسانو مرګ ژوبلې لامل شو (۲۰۵ وژل شوي او ۳۹۵ ژوبل شوي).
  - نا مشخص شوي دولتي ضد عناصر د ۴ ځانمرګو بريدونو مسؤليت درلود چې له امله يې ۳۸۳ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله، د اسلامي حکومت د خراسان ولايت څانګه د ۴ ځانمرګو بريدونو مسؤليت درلود چې ۲۱۷ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله.




## په عبادت ځایونو کې د بریدونو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله

"د کورنیو څخه یو تن چې غوښتل د پیښې په صحنه کې خپل خپلوان ومومي، نشوای کولای چې دوي پیدا کړي. وروسته دوي روغتون ته ولاړل. قرباني شخص په مړو او ژوبل شویو کسانو کې هم وه نه موندل شو. وروسته د هغه د کورنۍ غړي د پیښې په سیمه کې وګرځیدل او دوي یوازې یو لاس او یوه پښه وموندل چې د قرباني خپلوان هغه تشخیص کړ. او زیات شمېر نور هم په دغه وضعیت کې دي. "

په هرات کې د ګازرګاه پر مسجد باندي برید د یو تن شاهد بیان، ۲۰۲۲ کال د سپتمبر ۴ نېټه.

د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې ۱۵ نېټې څخه بیا تر ۲۰۲۳ کال د مۍ تر ۳۰ مودې ترمنځ پر عبادت ځایونو باندي د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بریدونو له امله ۱۲۱۸ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله (۳۸۶ وژل شوي، ۸۵۰ ژوبل شوي) اړولي ده. په دغه مرګ ژوبله کې ځلور تنې ښځې (یوه وژله شوې، درې ژوبلي شوي)، ۱۰۰ تنه ماشومان (۳۹ وژل شوي، ۶۱ ژوبل شوي) وو. پر عبادت ځایونو باندي د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه، په دغه موده کې، د ټولو ملکی کسانو د مرګ ژوبلي تر یوه دریمه زیاته برخه جوړوي، چې د یوناما شمېرنې دا ښيي چې په مقایسوي ډول پر عبادت ځایونو باندي د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بریدونو له امله، مخکې له دې چې طالبان واک تر لاسه کړي، پراخ زیاتوالي راغلی دی:

- په ۲۰۱۸ کال کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۹ بریدونه پر عبادت ځایونو باندي تر سره شوي چې د ۴۳۵ ملکي وګړو مرګ ژوبلي لامل شوي دي (۱۴۳ وژل شوي او ۲۹۲ ژوبل شوي).
- په ۲۰۱۹ کال کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۹ بریدونه پر عبادت ځایونو باندي تر سره شوي چې د ۲۱۹ ملکي وګړو مرګ ژوبلي لامل شوي دي (۷۰ وژل شوي او ۱۴۹ ژوبل شوي).
- په ۲۰۲۰ کال کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۶ بریدونه پر عبادت ځایونو باندي تر سره شوي چې د ۳۴ ملکي وګړو مرګ ژوبلي لامل شوي دي (۹ وژل شوي او ۲۵ ژوبل شوي).
- د ۲۰۲۱ کال جنوري د ۱نېټې څخه بیا د دغه کال د اګست د میاشتې تر ۱۴ نېټې پورې، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۱ برید پر عبادت ځای باندي تر سره شوي چې د ۳۵ ملکي وګړو مرګ ژوبلي لامل شوي دي (۱۰ وژل شوي او ۲۵ ژوبل شوي).
- د ۲۰۲۱ کال اګست د ۱۵ نېټې څخه بیا د دغه کال د دسمبر د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۴ بریدونه پر عبادت ځایونو باندي تر سره شوي چې د ۵۸۳ ملکي وګړو مرګ ژوبلي لامل شوي دي (۱۸۴ وژل شوي او ۳۹۹ ژوبل شوي).
- په ۲۰۲۲ کال کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۱۴ بریدونه پر عبادت ځایونو باندي تر سره شوي چې د ۶۳۱ ملکي وګړو مرګ ژوبلي لامل شوي دي (۱۸۳ وژل شوي او ۴۴۸ ژوبل شوي).




د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ۲۰۲۳ کال د مۍ تر ۳۰ پورې په عبادت ځایونو کې د ترسره شویو چاودیدونکو توکو د ډیری بریدونو مسولیت په غاړه درلود. یوناما په عبادت ځایونو باندې نهه بریدونه مستند کړي چې په پایله کې یې ۸۵۳ ملکي تلفات (۲۸۴ وژل شوي، ۵۶۹ ټپیان) د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه ته منسوب شوي.

د شیعه ګانو[7] پر عبادت ځایونو بریدونه په دې موده کې د ټولو عبادت ځایونو د بریدونو له امله د ملکي تلفاتو نیمايي برخه جوړوي.صوفیان، سني او د سیکانو عبادت ځایونه او مذهبي غونډې هم اغیزمنې شوې.

- پر شیعه عبادت ځایونو باندې ۴ د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه تر سره شوي دي چې له امله یې ۲۲۶ کسان وژل شوي او ۴۶۰ تنه نور ژوبل شوي دي. د دغه ۴ بریدونو مسؤلیت د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګې په غاړه اخیستې ده.
- پر تصوفي ځایونو او مذهبي مراسمو باندې ۴ د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه تر سره شوي دي چې له امله یې ۱۰۳ کسان وژل شوي او ۲۲۸ تنه نور ژوبل شوي دي. د دغه ۴ بریدونو څخه ۳ بریدونه په کومې ډلې باندې ندي منسوب شوي او د څلورم برید مسؤلیت د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګې په غاړه اخیستی دی (۵۰ وژل شوي، ۵۵ ژوبل شوي).
- پر سني عبادت ځایونو باندې۱۰ د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه تر سره شوي دي چې له امله یې ۳۷ کسان وژل شوي او ۱۵۹ تنه نور ژوبل شوي دي. د دغه ۱۰ بریدونو څخه ۹ بریدونه په کومې ډلې باندې ندي منسوب شوي او د لسم برید مسؤلیت د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګې په غاړه اخیستی دی (۳ وژل شوي، ۱۲ ژوبل شوي).
- پر سِک عبادت ځایونو باندې ۱ د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي برید تر سره شوی دی چې له امله یې ۲ کسان وژل شوي او ۳ تنه نور ژوبل شوي دي. د دغه برید مسؤلیت د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګې په غاړه اخیستی دی.

د فرقې پر بنسټ په عبادت ځایونو کې ملکي تلفات



## پر هزاره توکمو باندې د په نښه شویو بریدونو له امله د ملکي کسانو مرګ ژوبله

"زه د پېښې په ورځ کې، د مې د میاشتې ۲۵ نېټه، په یو ځایي فلاینګ کوچ کې حسن آباد ته خپل کور خواته مې سفر کول. زما دپاره دغه ورځ یوه ډېره ناوړه ورځ وه، زمونږ په موټر کې دننه په لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکي وچاودیده او زمونږ زیات شمېر کسان یې ووژل او ژوبل کړ. زما یادیږي چې دا یوه ډېره زوروره چاودنه وه چې مونږ ټول یې د موټر څخه دباندې وغورځولو او مونږ پر سړک باندې ژوبل پراته وو. زه د دواړو پښو څخه ژوبل شوي وم خو اوس زه تر درملنې لاندې یم او ښه یم. له نیکه مرغه زما پښې پرې نشول، ډاکټر وویل چې زه تګ کولای شم. "

په مزار شریف کې د هزاره توکمې په وړاندې د برید د یوه قرباني بیان، د ۲۰۲۲ کال د مې د میاشتې ۲۹ نېټه.

د شیعه ګانو په عبادت ځایونو باندې د بریدونو سربیره، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه تر ۳۰ مۍ ۲۰۲۳ پورې په ښوونځیو، ښوونیزو تاسیساتو، ګڼه ګوڼه کوڅو او عامه ترانسپورت کې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي یو شمیر بریدونه چې اکثره شیعه هزاره ګان دی په نښه کوي. یوناما په دې موده[8] کې د هزاره ګانو په نښه کولو د بریدونو په پایله کې لږ تر لږه ۳۴۵ (۹۵ وژل شوي، ۲۵۰ ټپیان) تلفات مستند کړي.

په کابل کې د هزارګانو ګڼ میشتو سیمو باندې د عاشورا د ورځې د نمانځې څخه مخکې، (د ۲۰۲۲ کال د اګست د میاشتې ۸ او ۹ نېټه) دوه بریدونه تر سره شول. د اګست د میاشتې په ۶ نېټه یو په لاس جوړ چاودیدونکي توکي په یو مارکیټ کې وچاودیده چې له امله یې ۳ کسان ووژل شول او ۵۴ تنه نور ژوبل شول او همدارنګه د اګست د میاشتې په ۷ نېټه یو په لاس جوړ چاودیدونکي توکي چې په یو منی بس پورې نښول شوي و، ۲ کسان یې ووژل او ۲۲ تنه نور یې ژوبل کړل. د دواړو بریدونو مسؤلیت د داعش د خراسان ولایت څانګه ومنل.

په ۲۰۲۲ کال کې ۳ بریدونه د کابل په دشت برچي کې چې زیاتره هزاره میشته سیمه ده، د تعلیمي مرکزونو په وړاندې تر سره شول چې لږ تر لږه د ۲۳۶ ملکي کسانو مرګ ژوبلې لامل شو:

- د ۲۰۲۲ کال د اپریل په ۱۹ نېټه په دشت برچي کې پر دوو تعلیمي مرکزونو باندې ۲ پر له پسې بریدونه په عبدالرحیم شهید لیسه او ممتاز تعلیمي مرکز کې تر سره چې له امله یې (۱۸ ووژل، ۴۴ ژوبل) شول. د دواړو پېښو په وژل شویو او ژوبل شویو کسانو کې ۴۷ تنه ماشومان (۱۲ هلکان وژل شوي، ۳۴ هلکان او یوه نجلۍ ژوبله) شویده او ۴ تنې ښځې (یوه وژله شویده او ۳ تنې ژوبلې شوي دي) شامل وو.
- د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د میاشتې په ۳۰ نېټه د په لاس جوړ شوي ځانمرګي برید، په دشت برچي کې د کاج تعلیمي مرکز یې په نښه کړ چې له امله یې ۵۴ تنه ووژل شول او ۱۱۴ تنه ژوبل شول، د دوي زیاتره برخه ځوانې ښځې او نجوني وي (۴۸ تنې ښځې د دریو ماشومانو په ګډون وژلې شوي او ۶۷ تنې ښځې د ۹ ماشومانو په ګډون ژوبلې شویدي). تر ټولو ځوانه قرباني یوه ۱۴ نجلۍ وه چې ژوبله شوي وه.

په داسي حال کې چې د هزارګانو پر توکمې باندې د زیات شمېر بریدونو مسؤلیت د داعش د خراسان ولایت څانګه منلې ده، د یو شمېر مهمو پېښو مسؤلیت – د کابل ښار په لویدځه سېمه کې پر تعلیمي مرکزونو باندې د پورته یاد شویو بریدونو په ګډون، چا ندی منلی.

## پر *اوسني چاړواکو* باندې د په نښه شویو بریدونو له امله ملکي کسانو ته مرګ ژوبله

په دغه موده کې پر *اوسني چاړواکو* طالبان باندې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونو له امله ۴۲۶ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله رسیدلې ده (۶۳ وژل شوي او ۳۶۳ ژوبل شوي). د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه د دغو بریدونو د دوه پر دریمه زیاته برخه بریدونو مسؤلیت منلی دی.

په دغه بریدونو کې هم د *اوسنی چاړواکي* ملکي کارکوونکي او هم لارویان اغیزمن شوي دي. د ساري په ډول، د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۰ نېټه، یو د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي هغه مهال د *اوسني چاړواکو* د امنیتي ځواک د موټر په وړاندې وچاودید کله چې دغه موټر د لغمان ولایت د مهترلام په ښار کې د یوې ګڼې ګوڼې ځخه په ډک مارکیټ کې د تېریدو په حال کې و چې له امله یې د *اوسني چاړواکو* د پولیس د دوو تنو افسرانو په ګډون، ۸ ماشومان، ۵ ښځې او ۲۹ نارینه ژوبل شول. د برید مسؤلیت چا ندی منلی.

د ۲۰۲۲ کال د جنوري په ۱۱ نېټه د کابل په ښار کې یو ځانمرګي برید د *اوسني چاړواکو* د بهرنیو چارو وزارت په دروازه تر سره شو چې له امله یې ۱۰ تنه ووژل شو او ۵۳ تنه نور ژوبل شول، چې زیاتره یې د *اوسني چاړواکو* د بهرنیو چارو وزارت کارکوونکي وو. د دغه برید مسؤلیت د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه ومنله.

همدارنګه یوناما یوه پېښه ثبت کړي چې د هغه مسؤلیت یوه وسله واله ډله د افغانستان د ازادۍ جبهې په نوم په غاړه اخیستي ده چې په دغه برید کې د *اوسنی چاړواکو* کسان په نښه شوي وو او ملکي تلفات یې واړول. د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۲۵ نېټه د کندهار په ولایت کې یو د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي چې د *اوسنی چاړواکو* د پولیسو په یو موټر نښلول شوي و، وچاودید او یو هلک او دوه تنه نارینه یې هغه مهال ووژل چې دوي د برید پر مهال د سېمې ځخه په پښو تیریدل.

## د رسنیو خپلواکي او د ژورنالستانو خوندیتوب

د دې مودې په اوږدو کې، یوناما یو شمېر پیښې ثبت کړې چې په کې ژورنالستان د راپور ورکولو موخو لپاره د ډله ایزو تلفاتو د چاودیدونکو توکو د پیښو ځایونو ته د لاسرسي ځخه منع شوي، په شمول د زور زیاتي یا نامناسب کاروني، ګواښونو او خپل سري نیولو او توقیف له لارې. د ساري په ډول د ۲۰۲۲ کال د فبروري د میاشتې په ۱۱ نېټه کې د *اوسني چاړواکو* امنیتي ځواکونه یو شمېر ژورنالستان وهلي کوم چې غوښتل یې د هغه په لاس جوړ چاودیدونکي توکي د چاودنې صحنې ځخه راپور تیار کړي کوم چې د بادغیس ولایت د قلعه نو ښار په جامع جومات کې ترسره شوي و. همدارنګه د راپوروونو پر بنسټ د اوسني

چاروکو د امنیتي ځواک غړي په هوا کې ډزې کړې تر څو ژورنالستان خواره واره او د چاودنې د صحنې ځخه د فلم اخیستلو مخنیوي وکړي. په یوه بله پېښه کې چې د ۲۰۲۲ کال د اګست د میاشتې په ۱۵ نېټه په کابل کې تر سره شوه، د آریانا نیوز ژورنالست د *اوسني چاړواکو* د امنیتي ځواک د غړو لخوا په کلکه ووهل شو کله چې دی هڅه کول چې د هغه برید د چاودنې د صحنې ځخه عکس واخلي په کوم کې چې دوه کسان وژل شوي او ۱۷ تنه نور ټپیان شوي وو.

کله چې د *اوسني چاړواکو* امنیتي ځواکونه غواړي د پېښو په هکله عامه خبرتیا خپور کړي – چې اکثراً د *اوسني چاړواکو* د ویاند ذبیح الله مجاهد او یا په سېمه کې د *اوسني چاړواکو* د پولیس د ویاند له خوا خپریږي – د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې شمېرې تر هغه شمېرې زیات ټیټې دي کوم چې د یوناما له خوا ثبت شوي دي.

## حقوقي کاري چوکات

د ملکي وګړو پر خلاف پراخ او سیستماتیک بریدونه (د مذهبي او قومي لړکیو په ګډون) چې په هغه کې ملکي وګړي په قصدي ډول سره وژل کیږي، کیداي شي د بشریت پرخلاف د جرمونه د تشکیلولو لامل شي.[2] د دي برسېره، هغه بریدونه چې په قصدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي او د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې لامل کیږي، د جګړې د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده چې کیداي شي د جنګي جرمونو لامل شي.[3] د جګړې نړیوال قانون پر عبادت ځایونو باندي برید منع کوي او نړیوال جرمي قانون هغه جرم انګېري، چې کلتوری ملکیت ګډل کیږي.[4]

د جګړي نړیوال قانون اصول د وسله والي جګړي په محتوا کې، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو پر بریدونو باندي پلې کیږي. یوناما لا د وخته دا تایید کړي چې په افغانستان کې یو شمېر غیر نړیوالې وسله والې جګړي شتون لري،[5] چې په هغه وخت کې د وسله والو نادولتي مخالفو ډلو په نوم مشخص شوي وو، د ساري په ډول طالبان او د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګې په ګډون. ځینې دا ډول وسله والي جګړي پای ته ندي رسیدلي او د جګړي د نړیوال قانون تابع دي. خو، په دغه راپور کې تر بحث لاندي نیول شوي یو شمېر تر سره شوي د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونو مسؤلیت چا ندی منلی، او د وسله والي جګړي د وضعیت سره روښانه اړیکه نلري. نو ځکه دا ممکنه نده چې په واضح ډول سره وویل شي چې آیا د جګړي نړیوال قانون پر دا ډول بریدونو باندي پلي کیږی او که نه.

افغانستان د زیات شمېر نړیوال بشري حقونو معاهدو،[6] د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون په ګډون، غړي هیواد دی، چې خپل غړي هیوادونه مکلفوي چې د خپل دولت په سېمه او صلاحیت کې دننه د خپل ټول وګړو د بشري حقونو درناوي وکړي او هغه تامین کړي. نو لدي امله *اوسني چارواکي* لومړني مسؤل کسان دي چې د ژوند کولو او د فیزیکي بشپړتیا حقونه خوندي او هغه ترویج کړي.[7] د بشري حقونو کمیټه ویلي دي چې د ژوند د حق د ساتنې لپاره یو مهم عنصر د غړو هیوادونو مکلفیت دی: " که چیرې غړي هیوادونه په بلقوه ډول سره د ژوند د حق څخه په ناقانونه ډول د محرومولو په اړوند پوهیږي او یا باید پوه شي، داسې پېښې وڅېړي او چېري چې مناسبه وي د دا ډول پېښو ترسره کوونکې محاکمه کړي".[8] دا ډول څېړنې باید په: "خپلواکه، بېپرې، بېړه، دقیقه، اغیزمنه او شفافه ډول سره ترسره شي".[9] همدارنګه غړي هیوادونه یو مسؤلیت لري چې داسې تدبیرونه ترلاس لاندي ونیسي چې په راتلونکې وخت کې د ورته سرغړونو د تکرار څخه مخنیوي وکړي.[10] همدارنګه د بشري حقونو کمیټه د دې یادونه هم کړي چې ۶ ماده، او په هغه پوري اړوند مکلفیت او د هغه په اړوند د سرغړونو څېړنې، په دوامداره توګه د وسله والې جګړی په وضعیت کې پلې کیږي.[11]

---

[2] د مثال په توګه، د بشریت ضد جرمونه لکه څنګه چې د روم د قانون په ۷ ماده کې تعریف شوي، د نورو سرېره، د وژنې عمل؛ له منځه وړل په سیاسي، نژادي، قومي، توکمیز، کلتوري، مذهبي، جنسیتي، یا نورو بنسټونو باندي د کومې پېژندنې وړ یا ټولنیز ډلې پروړاندې تعذیب؛ او د ورته ماهیت نور غیر انساني عملونه چې په قصدي توګه د لوی رنځ، یا بدن یا رواني یا فزیکي روغتیا ته د جدي زیان رسولو لامل کیږي، کله چې د یو پراخ یا سیستماتیک برید د یوې برخې په توګه ترسره کیږي او د برید په اړه د هر ملکي وګړي په وړاندې تایید کیږي.

[3] ګډه ماده; اضافي پروتوکول II، ۴(۴)، ۱۳(۲) مادي؛ د روم قانون، ۸(۲)(c) او 8(2)(i)(e)؛ د نړیوال سره صلیب دودیز نړیوال بشردوستانه قانون مطالعه، قواعد ۱, ۶, ۸۹, ۱۵۶.

[4] اضافي دویيم پروتوکول، ۱۶ ماده. د سره صلیب نړیواله کمېټه دودیز نړیوال بشردوستانه قانون مطالعه، ۳۸ قاعده هم وګورئ. د روم قانون، ۸(۲) ,(e) (iv) ماده په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې جرم انګیري "په قصدي توګه د عبادت ځایونو پر ودانیو باندې د بریدونو لارښوونه کوي [ ...] تاریخي اثار [...] په دې شرط چې دوی نظامي اهداف نه وي"؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۸ ماده.

[5] یوناما – د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر "افغانستان: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" د ۲۰۲۰ کلني راپور، فبروري ۲۰۲۱ کال، ۸۶ مخ.

[6] افغانستان د بشري حقونو لاندې تړونونو او کنوانسیونونو غړي هیواد دی: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق؛ د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق؛ د نژادي تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي چلند یا مجازاتو پروړاندې کنوانسیون؛ د ماشوم د حقونو کنوانسیون؛ د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشومانو فحشا او د ماشومانو د فحشا په اړه د ماشومانو د حقونو کنوانسیون او د هغه اختیاري پروتوکول؛ په وسله والو شخړو کې د ماشومانو د ښکیلتیا په اړه د ماشومانو د حقونو کنوانسیون او د هغه اختیاري پروتوکول؛ او د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون.

[7] د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون، ۶، ۹ مادي

[8] د بشري حقونو کمیټه، ۳۶ عمومي تبصره، ۶ ماده (د ژوندکولو حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36 [۶۴] پارګراف.

[9] د بشري حقونو کمیټه، ۳۶ عمومي تبصره، ۶ ماده (د ژوندکولو حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36 [۶۴] پارګراف.

[10] د بشري حقونو کمیټه، ۳۶ عمومي تبصره، ۶ ماده (د ژوندکولو حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36 [۶۴] پارګراف.

[11] د بشري حقونو کمیټه، ۳۶ عمومي تبصره، ۶ ماده (د ژوندکولو حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36 [۶۴] پارګراف.

## پایلې

په داسي حال کې چې یوناما، د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې راپدېخوا کله چې طالبان څواک تر لاسه کړ، د ملکي کسانو په مرګ ژوبله کې ستر کمښت ثبت کړی دی، خو په دوامداره توګه په قصدي ډول د په لاس جوړ چاودېدونکو توکو د بریدونو له کبله ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې زیاته کچه یې هم ثبت کړې ده. خو په ځانګړي ډول د اندېښنې خبره دا ده چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې راپدېخوا، په ځانمرګي بریدونو کې د وژنو کچه زیاته ده، چې په دغه موده کې دا ډول لږ پېښې زیاته ملکي مرګ ژوبله اړولې ده.

دا هم روښانه ده چې ملکي وګړو ته، د په لاس جوړ چاودېدونکو توکو د بریدونو له امله چې د اسلامي حکومت د خراسان ولایت د څانګې له خوا ترسره شوي، ګواښ ندی کم شوي.

د په لاس جوړ چاودېدونکو توکو د بریدونو له امله ملکي وګړو ته روان مرګ ژوبله په ټول هیواد کې د مالي او اقتصادي ناورین په شرایطو کې پېښېږي. د تېر حکومت په دوران کې د تاوتریخوالو او وسله والو جګړو قربانیان هڅه کول چې بنسټیز طبي، مالي او رواني ملاتړ ته لاسرسي ولري.[12] دغه وضعیت اوس هم دوام لري او د ډونر هېوادونو د مرستو په نشتون کې نور هم زیات شوی دی.

*اوسني چارواکي* په دوامداره توګه هڅه کوي چې د هغو په لاس جوړ چاودېدونکو توکو د بریدونو د پېښو د راپور جوړولو څخه د ژورنالستانو مخنیوي وکړي په کومو کې چې د تلفاتو کچه زیاته ده، چې پدې اړوند یوناما د په خپل سر نیول او توقیفول، ناوړه چلند او د رسنیو د کارکوونکو پر خلاف چې په دا ډول صحنو کې شتون لري، د زیات څواک ځای پر ځای کول، یو شمېر پېښې ثبت کړي دي. د دې برسېره، کله چې *اوسني چارواکي* د پېښو په اړوند معلومات خپوروي، اکثراً د تلفاتو شمېري ناسم او غیرواقعي دي.

د نړیوال قانون پر بنسټ د ملکي وګړو او ملکي ځایونو په وړاندي بریدونه منعه شوي دي. دا ډول بریدونه باید ودرول شي او باید پیاوړي هڅې ترسره شي تر څو د دا ډول پېښو د بیا ترسره کولو څخه مخنیوي وشي. د افغانستان *اوسني چارواکي* بنسټیز مسؤلیت لري چې تر خپل واک لاندي سېمه کې د ټولو وګړو د حقونو درناوي وکړي او هغه تامین کړي چې دوي وکولای شي خپل ژوند ورځني چاري په خوندي ډول او د برید د ډار څخه پرته ترسره کړي. *اوسني چارواکو* ته دا ډېره مهمه ده چې خپل مسؤلیت د ژوند کولو د حق د خوندي کولو لپاره ترسره کړي. دغه کار د په لاس جوړ چاودېدونکو توکو د بریدونو په اړوند، چې د ملکي وګړو ژوند تري اغیزمن کیږي، خپلواکه، بېپرې، بېړنۍ، دقیقه، اغیزمنه او روڼ څېړنې ترسره کړي. د دې برسېره، د خوندیتوب د تدبیرونو په پلي کولو، او په عبادت ځایونو او تعلیمي مرکزونو او د هزاره شیعه په ټولنو کې چې د ځانمرګي بریدونو د ګواښ سره مخ دي، په پام کې نیولو سره، په راتلونکي کې د ورته پېښو د ترسره کیدو څخه مخنیوي وکړي.

## توصیې

**وسله والې ډلې:**

- د په لاس جوړ چاودېدونکو توکو بې توپیره او غیر متناسبه کارول بند کړئ، په ځانګړي ډول په ګڼ میشتو سېمو کې او ملکي کسانو او ملکي ځایونو باندي، لکه عبادت ځایونه او تعلیمي مرکزونه.

***اوسني چارواکي:***

[12] یوناما – د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر "افغانستان: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" د ۲۰۲۰ کلني راپور، فبروري ۲۰۲۱ کال، ۸۶ مخ.

- د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بریدونو په اړوند د خپلواکه، بېپرې، بېړنۍ، دقیقه، اغیزمنه او رون څېړنې ترسره کول، او جدي هڅې کول چې د دا ډول بریدونو ترسره کوونکي مشخص او تر عدلي تعقیب لاندي ونیول شي.
- د اغیزمن شویو ټولنو سره په مشوره، په ځانګړي ډول هزاره ټولنې، په عبادت ځایونو، تعلیمي مرکزونو او نورو سېمو کې کوم چې د دا ډول بریدونو د ګواښ سره مخ دي، د امنیت پیاوړي کولو او د خوندیتوب تدبیرونو هڅې زیاتې کړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې خلک د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بریدونو په اړوند، رسنیو ته د پېښو د صحنې د لاسرسي او اسانتیا په ګډون، دقیق او پروخت معلومات ته لاسرسي ولري.

## ضمیمه: میتودولوژی

دغه راپور یوازې د تلفاتو او پېښو په اړوند ډېټا او معلومات وړاندې کوي کوم چې د یوناما له خوا د تایید وړ ګڼل شوي دي.

ملکي تلفات هغه وخت ثبت کېږي چې بنسټ یې د یوناما لخوا د بیاکتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پراساس وي، څرګنده او داسې "روښانه او قانع" کوونکي شواهد شتون ولري چې ملکیان وژل شوي یا ټپیان شوي دي. د دې معیار د پوره کولو لپاره، یوناما لږ تر لږه درېو بیلابیلو او خپلواکو سرچینو، د بیلګې په توګه قرباني، شاهد، طبي متخصص، ځایی چارواکي، د شخړې د یوې ډلې لخوا تایید، د ټولنې مشر یا نورو سرچینو ته اړتیا لري. د امکان په صورت کې، معلومات د قربانیانو او / یا د پېښو د شاهدانو د لومړنیو ارقامو او د سېمې د حقایقو د موندلو له لارې ترلاسه کېږي.

یوناما د دې ادعا نه کوي چې پدې راپور کې وړاندې شوي احصایې بشپړې دي او په افغانستان کې د اوسني عملیاتو په چاپیریال کې د داخلي محدودیتونو په پام کې نیولو سره د ملکي تلفاتو احتمالي کم راپور ورکول تاییدوي.

UNAMA